(1)

**د خلکو لاس نیوی او په ټولنه او وګړو باندي د هغه اغیزی**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ}ژباړه:« و ښې چاري سرته ورسوئ. ښایي چې برى درپه برخه شي.»، ویقول سبحانه: { قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ»ژباړه:« یوه خوږه خبره کول او د یوې ناوړي خبري څخه تېرېدل، له هغه خیرات څخه ډېر ښه دي، چې ور پسي ازارول وي. الله غني او د زغم خاوند دی. »** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د اسلام مبارک دین یو نړیوال رسالت دی چې د بیلابیلو لوړو ارزښتونو لرونکي دی دغو لوړو ارزښتونو له جملي څخه یو هم د خلکو لاسنیوي دی دا داسی یو ارزښت دي چې د خلکو د نفس ساتنه کوي او همدارنګه د زړونو نرموالی پکې رامنځته کیږي الله جل جلاله ددغه لوي ارزښت شان بیان کړی او دا یی د مسلمانانو د صفاتو څخه یو صفت ګرځولی دی همدارنګه دا د الله جل جلاله د نوم سره تړلی دی چې د هغه یو نوم هم جبار دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ » ژباړه:« الله هغه ذات دی چي له هغه پرته کوم هیڅ معبود بر حق نشته. هغه باچا، ډېر پاک، له ټولو عیبونو څخه سالم، امان ورکوونکی، ساتونکی، په ټولو برلاسی، په زوره د خپل حُکم نافذوونکی، د لويۍ څښتن او لويي کوونکی دی؛» مقصد یی دادی چې فقر به له غنا سره لمنځه وړي او مرض په روغتیا سره

همدارنګه ويره او خفګان په ډاډګيرني سره لمنځه وړي همدارنګه دغه نوم لکه چې قرطبي رحمه الله هم ذکر کړی دی د مبالغي صيغه ده چې د جبر څخه اخيستل شوی ده او مقصد يې همدا دی چې د يو چا لاسنيوي کول دي همدارنګه نبي کريم صل الله عليه وسلم پخپلو دعاګانو کې دا دعا هم کړی ده **اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَاجْبُرْنِي، وَارْزُقْنِي.**

همدارنګه الله جل جلاله د خپلو بندګانو شان اوچت کړی دی او د هغوي د لاسنيوي او د هغوي د نفسونو د پاکوالي لپاره يې بيلابيل ارزښتونه رامنځته کړي دي کله چې د موسی عليه السلام مور د خپل ځوي د ورکيدو له ويری په خفګان کې وه نو الله جل جلاله ورته وفرمايل لکه چې په قرآنکريم کې راځي:« فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ »ژباړه:« په دې توګه مور موسی(ع) بېرته خپلې مور ته راوست چې د هغې سترګې روښانه شي او غمجنه ونه اوسي او هغه په دې وپوهيږي چې د الله وعده رښتيا وه. خو زياتره خلك په دې خبره نه پوهيږي.» او کله چې نبي کريم صل الله عليه وسلم ته د خپل کلي مکي مکرمي څخه ووتو نو الله جل جلاله د هغه لاسنيوي وکړو او هغه ته يې د مديني منوري لاره وښودله لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَى مَعَادٍ» ژباړه:« [اې پیغمبره(ص)!] باور ولره، چا چي ددې قُرآن مسئوليت پر تا اچولی دی، هغه يو ډېر ښه عاقبت ته ستا رسوونکی دی.» مقصد يې دا دی چې مکي ته يې يو واری بيا راوګرځولو.

همدارنګه د خلکو د لاسنيوي د اخلاقو نمونه نبي کريم صل الله عليه وسلم په ژوند کې هم رابرڅيره شوی ده کله چې نبي کريم صل الله عليه وسلم حضرت خديجي رضي الله عنها ته راغی ډير خفه او غمجن وو نو حضرت خديجه رضی الله تعالی عنها نبي کريم صل الله عليه وسلم ته ډاډ ورکړ او د هغه لاسنيوي وکړ چې دا پخپله ددی خودنه کوي چې د نبي کريم صل الله عليه وسلم په ژوند کې هم دا لوړ ارزښت پلي شوی دی

همدارنګه کله چې نبي کريم صل الله عليه وسلم جابر بن عبدالله رضي الله عنه وليدو چې د خپل پلار عبدالله رضي الله عنه په شهادت باندي ډير زيات خفه وو او هغه ته لويه کورني او همدارنګه پورونه پاتي وو نو پيغمبر صل الله عليه وسلم د هغه لاسنيوي وکړ او ورته وويل چې آيا زه تاته زيری درنکړم پدي باندي چې الله جل جلاله ستا پلار سره څنګه ليده کاته کړي دي الله جل جلاله د هيچا سره نيغ په نيغه خبری نکوي مګر د پردي ترشا کوي خو ستا پلار سره يی د پردی پرته کړي دي نو دا پخپله ددی خودنه کوي چې نبي کريم صل الله عليه وسلم د جابر بن عبدالله لاسنيوي وکړ او د هغه زړه يی خوشحاله کړ.

همدارنګه نبي کريم صل الله عليه وسلم د خلکو د لاسنيوي او د خلکو سره د خواخوږي په برخه کې بيلابيل لوړ رسايل مونږ ته بيان کړي دي کله چې د مهاجرينو صحابه ؤ بيوزله نبي کريم صل الله عليه وسلم ته راغلل او ورته يی وويل چې اي د الله رسوله د ثور د خلکو په هکله يی ورته خبري وکړي چې هغوي هم داسی لمونځونه کوي لکه څنګه چې مونږ کوو او روژي هم داسی نيسي لکه څنګه چې مونږ نيسو او هغوي صدقي کوي بيا نبي کريم صل الله عليه وسلم هغوي ته وفرمايل چې تاسو ته الله جل جلاله ډير داسی شيان درکړي چې هغه تاسو صدقه کړي ځکه چې هر تسبيح چې کوي دا پخپله صدقه ده او هر تکبير صدقه ده او هر حمد و ثنا د الله جل جلاله ويل دا پخپله صدقه ده او تکبير ويل صدقه ده او امر بالمعروف صدقه ده او نهي المنکر هم صدقه کې راځي.

د اسلامي شريعت کې که يو څوک فکر وکړي دا پدي باندي راغلي دی چې د خلکو لاسنيوي او د هغوي سره خواخوږي ترسره شي په ځانګړي توګه د هغه چا سره چې هغوي کمزوري وي لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمايي:« فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ * وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ»ژباړه:« نو پر يتيم باندي قهر مه کوه؛ * او سوالګر مه رټه؛» مقصد يی دا دي چې د هغوي لاسنيوي وکړياو د هغوي سره نيکي وکړی پيغمبر صل الله عليه وسلم هم

په بیلابیلو احادیثو کې په همدې باندې ټینګار کړي دی لکه چې فرمايي زه او يتيم پالونکې به په جنت کې داسی يو او خپلو ګتو باندي اشاره وکړه پيغمبر صل الله عليه وسلم هم همدارنګه په بل حديث کې فرمايلی دی چې د کونډو او همدارنګه د بيوزلو سره مرسته کونکي داسی دي لکه د الله جل جلاله په لاره کې جهاد وکړي او يا هم د شپې عبادت وکړي او يا هم د ورځې روژه ونيسي همدارنګه کله چې پيغمبر صل الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی پيغمبر صل الله عليه وسلم وفرمايل چې پخپل مسلمان ورور باندي پداسی وخت کې داخل شی چې ته خوشحاله يې او همدارنګه هغه خوشحاله کړي او د هغه قرض اداء کړي او هغه ته ډوډۍ ورکړي همدارنګه نبي کرى صل الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په خلکو کې محبوب ډير هغه څوک دی الله جل جلاله ته چې نورو خلکو ته ګټه رسوونکۍ وي او همدارنګه غوره عمل د الله په نزد هغه دی چې بل مسلمان ته خوښي ورپه برخه کړي او د هغه څخه سختي لري کړي او يا هم د هغه قرض اداء کړي او يا هم د هغه لوږه لرى کړى او د يو داسی مسلمان ورو سره منډه وهل چې اړتيا ولري لدي څخه غوره دي چې د مديني په جومات کې ټوله مياشت اعتکاف وکړي.

*********

**ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.**

بې له شکه ی خلکو لاسنيوی يو لوړه اخلاقي ارزښت دی چې په ټولنه کې ټولو خلکو ته شامليږي د اسلام مبارک دين انانيت او منفي ګرايی نه پيژني بلکي د اسلام مبارک دين په ورورولي باندي ټينګار کړی دی ترڅو د خلکو د احساساتو ساتنه وشي او د هغو لاسنيونه وشي پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايلي دي: د مسلمانانو مومنانو مثال ددوي په مينی

او محبت او و له بل سره په رحموالي داسی دی لکه د یو بدن په څير که چيرته د بدن يو غړی دردمند وي نو ټول بدن ورسره دردمند کيږي همدارنګه ددی ترڅنګ نور بيلابيل احاديث راغلي دي چې پدي ټينګار کوي چې بايد يو د بل لاسنيوي وکړو او پدي برخه کې يو له بل سره خواخوږي څرګنده کړو.

مونږ په همدي باندي ټينګار کوو چې د خلکو لاسنيوي وشي او خلکو سره خواخوږي ترسره شي او دا يا په فعل سره ترسره کيدلي شي يا هم په خه خبري سره او يا هم په دعا سره او يا هم په ښه نصيحت سره او يا هم د يو مسلمان ورور په وړاندي خوشحالي څرګندول لکه چې پيغمبر صل الله عليه وسلم فرمايلي دي چې بايد تاسی يو له بل سره په پراخه تنده باندي ملاو شي چې يو له بل سره خوښ وسي همدارنګه مونږ پدی باندي ټينګار کوو چې د خلکو لاسنيوي او همدارنګه د خلکو سره خواخوږي کول پخپله په ټولنه او وګړو باندي ډير لوي اغيزه لري او پدي ترڅ کې د خلکو زړونه يو کيږي او صفونه او همدارنګه د ټولني مزي پري ټړل کيږي.

**الله دمونږ ته د ښيګڼو او د همدارنګه د خلکو د لاسنيوي توفيق راکړي.**